شهسوار سنګروال ۲۰۱۶/۱۲/۲۸

د مغلو په وړاندې
د پیر روښان د پاڅون لاملونه

پیر روښان چې کله خپل ځواک ولید، چې له یوې خوا یې ډېر پیاوړي او سرتېري مریدان پیدا کړل او له بلې خوا یې ګڼ شمېر ځوانان تر شا ودرېدل ،بیا یې د یوه لوی لښکر بنسټ یې کېښود، او وېپتېله چې غوره به وي، د مغلو ظلمونو ته د پای ټکی کېږدي.
هغه مهال چې په ۹۸۰ هـ کال اپرېدو، اورکزیو او اتمانخېلو قومي مشرانو او ځوانانو د ده ملا وتړله، لا یې خپل ځان کې د ځواک وړتیا ولیده. نو د اخون درویزه د څرګندونو له مخې کله چې له تیرا څخه پردي ځواکونه ووېستل ده لاد غرونو په ځوانانو کې خپل مینه وال زیات کړل او د «ونسټ سمیټ» په قول د بایزید بری په دې کې وو، چې ډېر وګړي یې د خپلواکۍ له بابته چې غواړي له مغلو نه آزادي واخلي ځان پسې روان کړل.
بله کومه خبره چې ډېره مهمه وه هغه دا چې مغلي ځواکونه د پښتونخوا په سیمه کې دومره پیاوړي نه وو، لکه څرنګه چې سید علي ترمذي (پیر بابا) د مسلمان پاچا ارمان کړی وه.
دریمه خبره دا وه چې د اکبر پاچا او د میرزا حکیم تر مینځ هم د وروری اړیکې ډېرې خوږې او پیاوړې نه وې. میرزا حکیم په ۸۱ – ۱۵۸۰ز کال دوه ځلې په پنجاب برید وکړ. – ۲۷ – کلن حکیم دویم وار په خپله هم د پوځ مشري په غاړه درلوده او غوښتل یې د روهتاس کلا قومندان د ځان پلوی کړي. ولې ګټه یې ونه کړه ،دا ځکه چې د لاهور والي د جلال الدین اکبر له باوري دوستانو څخه و.
که څه هم اکبر پخپه د هند په ختیځ، سوېل او د بنګال په شاوخوا کې ډېرې ستونزې درلودلې ...که سلاکارانو څومره ورته وویل چې لومړی دغه کواښ له مینځه یوسي ،خو جلال الدین ډېره وېره له کابله او شما ل لوېدیځو سیمو نه لرله ،نو ځکه خو یې په ۱۵۸۱ ز کال خپل پوځ د هېواد له نوې پلازمېنې فتح پور سکري Fatehpur – Sikri څخه د کابل په لور وخوځوه.
اکبر پاچا په سرهند Sirhind کې خبر شو، چې میرزا حکیم له وېرې نه له سیمې وتلی دی.
جلال الدین اکبر ځان اباسین ته ورسوه او د اټک کلا بنسټ یې کېښود. د دې کلا د بشپړولو لپاره یې خپل برهمن سلاکار راجا بیربل Raja Berbal ته دنده وسپارله چې کلا په بېړه جوړه کړي.
د ډېرې تودوخې له امله د ده سلاکارانو په تېره د ده مذهبي سلاکار جیسیوت مانسیورات ورته Jesuit Monserrate وویل هوا توده ده او اباسین نه تېرېدل هم ګران دي او د پله د جوړېدو امکان هم نشته ښه به وي چې بېرته ستانه شو.
ولې اکبر و نه منله او «مان سنګه» ته یې وویل چې پېښور ونیسي. خو کله چې میرزا حکیم خبر شو د پېښور بازار ته یې اور واچوه او خپله وتښتېد. ولې سره د هغې هم اکبر ټینګار وکړ چې د خیبر لاره باید جوړه شي او انجنر قاسم خان یې دې ته وګماره او خپل زوی «مراد» او «مان سنګه» ته یې هم وویل چې خیبر لاندې کړي.
انجنر قاسم خان په ډېر زیار د خیبر لاره جوړه کړه. د ابو فضل د څرګندونو له مخې وروسته اکبر پاچا نوموړی د کابل والي وټاکه.
د اکبر پوځونو کابل ونیو چېرته چې د ده د نیکه هدیره وه او حکیم له خپلو پلویانو سره غره ته پورته شو.
جلال الدین اکبر خپله خور «بخت النساء» د کابل والي وټاکله ،خپله بېرته را ستون شو او د بېړیو په پله له اباسین نه را پورې ووت.
پدغه وخت کې د پیر روښان پنځم زوی جلال الدین«جلاله» د یو شمېر ځوانانو په مټ د اکبر په پوځ برید وکړ ولې ماته یې وخوړله.
د پیر روښان له اووه زامنو څخه (شیخ عمر، نورالدین، خیرالدین، کمال الدین او جلال الدین) یاني پنځه زامن یې له بې بې شمسو څخه ،یو زوی یې الله داد نومېده چې د بې بې دنۍ زوی وه او اوم زوی یې چې دولت الله نومېده له بې بې تورۍ څخه وه .بایزید لا له دې د مخه لکه چې په تېرو پاڼو کې ورته اشاره وشوه له مغلو سره ښکېل وه او په دې هم پوهېدلی و، چې د یوسف زو په سیمه کې له یوې خوا د ده د پیرۍ او مریدۍ د لارې دښمن سید علي ترمذي او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اخوند درویزه سره لاس او ګرېوان وه او له بلې خوا یې د اکبر له پوځونو سره مخامخ جګړه نشوه کولی، نو ځکه خو د تیرا هسک غرونه د ده لپاره مهم وه او د اپرېدو په مرسته یې تیرا خپله پلازمېنه اعلان کړه.
د محسن خان په مشرۍ د مغلو او د ده د لښکر چې ډېر شمېر یې اپرېدي وو څو واري سختې جګړې وکړې. ولې کومه جګړه چې ډېره مهمه وه هغه د میرزا سلیمان سره وه چې د بدخشان والي وو.
د اکبر پاچا د لیدلو لپاره هندوستان ته روان و. د بایزید لښکر د خیبر په دره کې د مغلو په قافله برید وکړ. کله چې په پېښور کې د مغلو پوځ خبر شو ډېر زر یې د پېښې ځای ته ځان ورسوه، نو بیا یې د میرزا سلیمان له پوځ سره په ګډه په اپرېدو برید وکړ او له یوې خونړۍ جګړې وروسته یې ماته وخوړه.
مغلې چارواکو د کسات اخستلو لپاره بیا برید وکړ. خو دا ځل روښاني لښکر ماته وخوړه او پیر روښان یوسف زیو ته لاړ او هلته یې د اکبر په پوځونو برید وکړ.
د پیر روښان په اړه ویل شوي دي چې نوموړی جل وواهه او په ۹۸۲ هـ ق کال ومړ.
ولې یو شمېر څېړونکي انګېري چې پیر روښان په یاده شوې نېټه ندی مړ شوی ،بلکې د ده مړینه په ۹۸۸ هـ کال ښیي. دا ځکه چې پیر روښان د ملي جهاد په نوم ډېر پښتانه جنګیالي په ځان را ټول کړل او په دې هیله ،چې یو ملي حکومت جوړ کړي ،له دې
بابته د ده لښکر او د کابل صوبدار محسن خان پوځ د شینوارو په «تور راغه» کې یو بل سره مخامخ شول چې په همدغه جګړه کې دغه ستر مېړه د ۵۶ کالو په عمر مړ شو.
د بایزید روښان له مړینې وروسته د ده مشر زوی شیخ عمر د اتو (۸) کالو لپاره د یوسف زو په اغاز پور کې حکمران و او د پلار په څېر په خپل هوډ ولاړ وه. لکه څنګه چې سید علي ترمذي او اخون درویزه د پیر روښان په وړاندې ولاړ وو. همدا رنګه دشیخ عمر په مقابل کې هم درېدلي وو او د پلار په څېر یې دی هم ملحد ګاڼه او ان د لعین خطاب یې ورته کوه.
«شیخ عمر نه یوازې خپل مذهبي او سیاسي غورځنګ ته د پښتونخوا په سیمو کې پراختیا ورکوله بلکې د روښاني غورځنګ له دښمنانو سره هم لاس او ګرېوان وه.
د پیر روښان دوښمنانو، سید علي (پیر بابا) او د مریدانو په سرکې اخون درویزه او حمزه خان اکوزي په لمسون د پیر روښان مړی له قبره و وېست او سیمه ییزو ګوجرو له ځان سره یو وړ.»() اوس ویل کېږي چې دی په دوورو کې ښخ دی.
له دې سربېره حمزه خان اکوزي د خپل پیر سید علي ترمذي په لمسون په وسله وال برید لاس پورې کړ. د پرلپسې جګړو له امله نوموړي ماته وخوړه .ولې د قومي تړون له بابته، چې حمزه خان د یوسفزو له ځواک نه ناوړه ګټه پورته کړه، له دلازاکو سره په ملتیا د یوې خونړۍ جګړې په ترڅ کې لومړی شیخ عمر او خیرالدین و وژل او بیا وروسته یې نورالدین، الله داد او دولت الله هم له مینځه یوړل.
په پیر روښان او د پیر روښان د غورځنګ په غړو چې څومره ظلم شوی دی ،د تاریخ په پاڼو کې لږ ساری لري. د بېلګې په توګه د بایزید د زامنو پنځه پرې شوي سرونه کله چې د شمسو بي بي په مخکې کېښودل ،په داسې حال کې چې دا د حمزه خان سړیو بندي کړې هم وه ،د خپلو زامنو سرونو ته یې و ویل: آفرین زامنو چې تاسو خپل سرونه د آزادۍ په لاره کې قربان کړل .تاسې په رښتینې توګه د پښتنې شودې (پې) رودلي دي. ویل کېږي چې دې له ستر ګو یوه اوښکه هم تویې نه کړه او لا په ځغرده یې و ویل: زما ګرانو او نازولو زامنو زه پر تاسو ویاړم.
ولې د پیر روښان دوه زامن هر یو جلال الدي جلاله او کمال الدین له دا ډول خو نړیو جګړونه ژوندي پاتې شول او جلال الدین، د اکبر دربارته بوتلی شو.
ولې څرنګه چې جلال الدین جلاله لیدل، چې که له یوې خوا د پیر بابا مریدانو اخون درویزه او حمزه خان دپیر روښان د غورځنګ د غړو په وړاندې پرو پاګند کاوه ،خو له بلې خوا مغلې ځواکونو د دغه غورځنګ د ځپلو لپاره وسله وال بریدونه هم کول. نو همدا لامل و چې دی ژر د شیخ خلیل په مرسته ببرته سیمې یانې تیرا ته راغی او بیایې وسله وال پاڅون ته ملا و تړله.
په طبقات اکبري کې راغلي دي چې په ۹۹۶ هـ کال د نوروز لومړۍ نېټه چې د اکبر پاچا د واکمنۍ دوه دېرشم (۳۲) کال وه جلال الدین جلاله د راجه مانسنګه له لښکرو نه ماته وخوړه او بنګښوته په شا شو.
«جلاله د پښتونخوا له بېلا بېلو سیمونه پښتانه جنګیالي ځان پسې کړل بیایې په غزني برید وکړ ولې د هزاره ګانو په ولکه کې پرېووت. بیایې د نوموړي سر، اکبر پاچا ته ولېږه.»()
د جلال الدین جلاله له مړینې وروسته، د ده وراره، د شیخ عمر زوی احداد ،د ده ځای ناستی و ټاکل شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له تیرانه یې بیا په مغلو بریدونه شروع کړل.نوموړي یوه ډله غورځنګیان غزني ته ولېږل او هغو د جلاله هډوکي دووړو ته (۱۰۱۲ هـ) راوړل او د پیر روښان په هدیره کې خاورو ته وسپارل.
موږ د پیر روښان د قبر یادونه وکړه چې ګوجرو نه وروسته د ده مریدانو لاس په لاس د ده تابوت ځکه ګرځوه چې بیایې څوک له قبرنه بېرون نکړي. ولې د یوې جګړې په ترڅ کې تابوت په سین کې لاهو شو او له پیدا کېدو وروسته یې دووړو کې ښخ کړ.
اکبر پاچا د میرزا حکیم خان له مرګ نه ورسته غوښتل چې کابل ته لاړ شي، نو ده د زین خان کوکه په مشرۍ سوات، باجوړ او د یوسفزو د ځپلو لپاره ،یو پوځ هلته ولېږه .د سختې جګړې له امله بېرته د تېښتې په حال کې، په ډېرشمېرسوات کې و وژل شول او زین خان په تېښته اټک ته راغی.
ولې د تل په څېر چې پښتنو له خپلې بې اتفاقۍ نه همېشه ماته خوړلې ده ،د پیر روښان کورنۍ هم پخپلوکې و وېشل شوه. د جلال الدین مشر زوی الله داد چې د ټولو زامنو شمېر یې (هادي داد، کریم داد، میا داد) څلورو ته رسېده له احداد سره جوړ نه وو.
د جلاله څلور واړو زامنو په سر کې الله داد، غوښتل چې له مغلو سره روغه وشي. همدا لامل وو چې د پیر روښان په لمسیو کې ،نا یو والی او بې اتفاقي مینځته راغله.
له دېنه د مخه د جلال الدین د کورنۍ یو شمېر غړي لکه د ده خور کمال خاتون، د ده وراره ولیداد او وحدت علي (د بایزید د کاکا لمسی) چې په باجوړ کې استوګن وو، د مغلو له خوا ونیول شول او لاس تړلي یې په لاهور کې د مغلو دربار ته یو وړل .خو بیا هم د روښانیانو پلویانو دوی له زندان څخه په پټه را و وېستل او تیرا ته یې و رسول.
دا ډول پښتنو هم د جلال الدین جلاله په زامنو اغېزه در لوده او په زندان کې د کمال الدین مړینه، چې د مغلي اکبر له خوا نیول شوی و، یو بله ناوړه پېښه وه. همدا راز په سلګونو نورو پېښو د دوی په فکرونو اغېزه کړې وه .
ځکه یې نور له مغلو سره جنګ کول نه غوښتل. یایې په وس پوره نه وه ،ځکه چې د مغلو له خوا په ۱۰۳۵ هـ ق کال د ختکو په «لواغر» کې احداد و وژل شو. ولې د هغه زوی عبدالقادر بیا هم د مغلو په وړاندې ودرېد خو په ۱۰۳۶ هـ کال دی او مور یې بې بې علایې د مغلو له خوا و نیول شول او عبدالقادر په ۱۰۴۰هـ کال د پېښور په زندان کې ومړ.
د جلال الدین کشر زوی د مغلو په وړاندې د مبارزې ډګر ته را ووت ،ولې د شاه جهان د واکمنۍ په مهال په ۱۰۳۸ هـ کال دی هم په پېښور کې ووژل شو.
د ده له مړینې وروسته د بایزید روښان د کورنۍ نور غړي یو د بل پسې مغلي دربار ته ورغلل او د مغلو پاچاهانو هم دوی ته غوره منصبونه ورکړل.
سره د دې ټولو ستونزو، چې افغانانو لرلې بیا هم ټولواک اکبر په دې بریالی نشو، چې جلاله ونیسي، ولې په دریم وار اکبر پاچا له یو ستر ځواک سره ۱۵۹۲ ز کال د جلاله د کورنۍ په ګډون یې څوارلس زره د پیر روښان پیروان او پلویان یاونیول،یاووژل...
له اکبر نه وروسته نورو مغلي چارواکو هم دا وس پیدا نکړ چې د پښتونخوا ټولې سیمې تر خپل واک لاندې راولي.

د پیر روښان د نبیرې شجره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د میرزاخان — دولت د توری له نسه — اله داد د دنی له نسه — وحدت علي

انصاري لـور
او د سکنـدر
میــرمـــن

میاداد چي میرمن یي فتح خاتون
نومیده

له بي بي شمسو

شیخ عمــر — خیرالدین — کمال خاتون — کمال الدین — نور الدیــن — جلال الدین جلاله

د علي خان مومند

میرمن — پیر داد — میرزا انصاري

میرزا خیرالله
میرزا جاني

محمد زمان — شاه زمان خاتون — ولي محد

قادر داد

مهدي داد

خدا داد
عبدالحکیم
عبدالنبي
فتح خاتون
سلیم خاتون
مریم خاتون

احداد چي میرمن یي
بي بي علایي نومیده

عبدالکریم

دریا خاتون د محمد زمان
میرمن

عبدالقادر

میر خاتون

د عبدالله خان میرمن — د مهدي داد میرمن — عبدالواحد

جلاالدین جلاله

نور خاتون — کریم داد — میا داد

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پلاوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له ګرالیرلو مخکي په ځیر ولولئ



پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ